**مطبوعاتي اعلاميه**

# عراق دولت؛ د مظاهره کوونکو د فشار او واکمنو ډلو د حرص تر منځ

په پلازمینه بغداد او همداراز مرکزي او جنوبي ولایتونو کې د عامو خلکو مظاهرې دویمې میاشتې ته داخلې شوې، دوی د ټولې سیاسي پروسې د لغوه کولو غوښتنه کوي، ځکه دوی فکر کوي چې د دوی اوسني سبمولیک مشران او په دولت کې موجود اداري او مالي فساد، هېواد له دغه ناورین سره مخ کړی. د عبدالهادي حکومت باید زر تر زره د خلکو مشروع غوښتنو ته ځواب ویلی وی، استعفا یې ورکړې وی او خپله ناکامي یې منلې وی؛ خو موږ کاملاً برعکس خبره وینو، لومړي وزیر تېره ورځ سهار –پنجشنبه د روانې میاشتې په ۲۸مه – ناصریه ښار ته پوځیان لېږلي چې مظاهره کوونکي پر شا او خواره کړي، دغو پوځیانو پر مظاهره کوونکو ډزې کړې چې په پایله کې یې ۴٦ کسه وژل شوي او تر ۲۰۰ ډېر ټپیان دي، دا د دې خبرې ښکاره نښه ده چې حکومت په هر قېمت پر واک پاتې کېدل غواړي، د دې لپاره ان خپل خلک په سختیو کې پرېږدي او وژني یې، دوی هغه څه غلا کوي چې په دوی پورې اړه نه لري.

په هر صورت، موږ ډاډه یو چې امریکا ځکه دغه فاسده ډله واک ته ورسوله چې هغه ماموریت وربانديې بشپړ کړی چې د دوی جنګي ماشین پکې له ماتې سره مخ شو. په واک کې د دوی له پاتې کېدو څخه امریکا خپله ګټه اخلي او هر څه له نېږدې څاري. که چېرې حکومت لاریون کوونکي له نظامي لارې تیت کړي، نو دوی به پر واک پاتې شي، که یې ونه شوای کولی نو امریکا به دغه چارواکي پخپله له واکه لرې کړي –لکه هر وخت یې چې کوي- او پر ځای به یې نور کسان واکمن کړي چې د دوی غلامۍ او له امت سره دښمنۍ ته دوام ورکړي... نو باید د خپلو کړنو پر اساس د الله سبحانه و تعالی د نور قهر په تمه اوسو، پرته له دې چې ډیموکراسي رد او د الله سبحانه و تعالی شریعت حاکم نه کړو، هېڅ شی مو له دغه بدمرغیو څخه نه شي ژغورلی؛ د الله سبحانه و تعالی د شریعت په حاکمولو سره به ربښتینې سوکالي او انساني عزت تر لاسه کړئ.

## ﴿أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ﴾

**ژباړه:**«که دوی د خدای ج له قانون څخه مخ اړوي، نو ایا بیا د جاهلیت فیصله غواړي؟ او هغه خلک چې په الله سبحانه و تعالی باور لري، د هغوی په نزد له هغه سبحانه و تعالی څخه بل غوره فیصله کوونکی نه شته». [مائده سورة: ۵:۵۰]

## حزب التحریر ولایه –عراق مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۱هـ.ق د ربیع الثاني ۲مه

۲۰۱۹م کال، جمعه، د نومبر ۱۹مه

گڼه: ۰۲/۱۴۴۱